HUMAN RIGHTS WATCH

# د پاکستان زورزیاتی او د ملګرو ملتونو ښکېلتیا

## ګڼ شمېر افغان کډوال په زور اړ شول چې افغانستان ته ستانه شي

# لنډیز

*"پروا نه لري چې ته څوک یې، ډېر زورزیاتی به دې زړه در تور کړي."*

- افغانستان ته راستنېدونکی ۲۵ کلن کډوال، نومبر ۲۰۱۶

پاکستان په تېرو ۴۰ کلونو کې د هغو یو میلیون افغان کډوالو چې د نړۍ یوه لویه برخه جوړوي، ښه کوربه‌توب وکړ، خو له تېرو ۲ کلونو راپدېخوا د دوی دا کوربه‌توب په بدو اوښتی او افغان ټولنه یې هم راپارولې ده. پاکستاني چارواکو د مرګونو امنیتي پېښو او له افغانستان سره د خرابېدونکو سیاسي اړیکو په غبرګون کې له هېواده د افغان کډوالو د ایستلو کمپاین ته زور ورکړ؛ د ۲۰۱۶ کال په دویمه نیمه کې د شړلو وېرې او د پولیسو ناوړه چلند لەدې هېواده د ۱,۵ میلیونه ثبت شویو کډوالو له ډلې نږدې ۳۶۵۰۰۰ کډوال او د یو میلیون نا ثبت شویو کډوالو له منځه ۲۰۰۰۰۰ کډوال هم له دې هېواده وتلو ته اړ ایستل چې دا شمېر د نړۍ په کچه د شړل شویو کډوالو تر ټولو لوی شمېر ګڼل کېږي. پاکستاني چارواکو په یوه بیان کې ویلي چې دوی غواړي همدومره شمېر کډوال په ۲۰۱۷ کال کې هم له دې هېواده وشړي.

راستانه شوي کډوال چې په پاکستان کې یې نسبتاً ښه امنیتي او اقتصادي وضعیت درلود، له راستنېدو وروسته به یو ځل بیا له وسله‌والو جګړو، لوږې او ټولنیزو چوپړتیاوو له نشتوالي سره مخ شي چې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري یا د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) دا حالت داسې بېړنۍ بشري وضعیت بللی چې مرسته‌کوونکي اداري یې هم د زیاتېدونکو ناامنیو او کمېدونکو سرچینو له کبله په له منځه وړلو کې پاتې راغلي دي، په‌داسې حال کې چې دوی ناامنو او فقر ځپلو سیمو ته د تللو او مرسته رسولو توان نه‌لري، داسې ښکاري چې سلګونه زره کډوال به د هغو ۱,۵ میلیونه بې‌ځایه شویو کسانو له برخلیک سره مخ شي چې د ۲۰۱۶ کال په پای کې یې اټکل شوی وو؛ په‌دې شمېر کې کابو ۶۲۵۰۰۰ هغه بې‌ځایه شوي کسان هم شامل دي چې په ۲۰۱۶ کال کې د مختلفو لاملونو له امله ځپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي او بې‌ځایه شوي دي؛ باید وواېو چې په‌دې شمېره کې هغه سلګونه زره کډوال نه دي شامل چې په ۲۰۱۶ کال کې له پاکستان څخه خپل هېواد ته راستانه شوي، خو ځپلو سیمو ته نه‌شي ستنېدلی. د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په میاشت کې UNHCR خبرداری ورکړی وو چې له پاکستان څخه ګڼ شمېر راستنېدونکي کډوال "لوی بشري ناورین رامنځته کولی شي."

دا راپور افغانستان ته له پاکستان څخه راستنو شویو او په پاکستان کې له ناثبت شویو کډوالو سره د ۱۱۵ مرکو پر بنسټ چمتو شوی او د ملګرو ملتونو د هغو راپورونو پر بنسټ نور هم بډای شوی چې د زرګونو افغانانو د راستنېدو دلایل یې په کې وړاندې کړي دي، دا راپور په مستند ډول ثابتوي چې افغان کډوال په ۲۰۱۶ کال کې د پاکستان د فشارونو له امله اړ شوي دي چې له هغه هېواد څخه ووځي.

افغان کډوالو د بشري حقونو څار اداري ته څرګنده کړه چې د ۲۰۱۶ کال د جون له میاشتې وروسته د افغانستان او پاکستان د اړیکو ترینګلتیا، بې‌باوره حقوقي وضعیت، د حکومت له‌خوا د کډوالو د ستنولو اعلان او د شړلو ګواښونه، د پولیسو له خوا هره ورځ زورزیاتي او ګواښونه چې د کاروبار مخه یې نیولې وه، خپلسري نیوني، پر کورونو د پولیسو له‌خوا چاپې، له پاکستاني ښوونځیو څخه د افغان زده‌کوونکو ویستل، د افغان کډوالو د ښوونځیو تړل او بالاخره د پولیسو له‌خوا غلاوې او د ځواک ناقانونه کارول هغه بېلابېل اجباري عوامل وو چې وړاندې اشاره ورته وشوه. د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر میاشت کې د پاکستاني پولیسو ځوروني راکمې شوې، خو راپورونه د ډسمبر تر میاشتې اورېدل کېدل.

د دې عواملو له منځه تر ټولو مهم یې د افغانو کډوالو په اړه نا مصئونه قانوني دریځ او د شړلو ګواښ وو؛ د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر په نیمایي کې پاکستان اعلان وکړ چې د افغان کډوالو د کډوالۍ د کارتونو موده به د ډسمبر پر ۳۱ مه نېټه پای ته ورسېږي، خو له هغه وروسته بیا افغان کډوالو ته وویل شول چې دوی باید په‌خپله خوښه ووزي، که نه و به‌شړل شي، وروسته بیا د سپټمبر په میاشت کې چارواکو دغه نېټه د ۲۰۱۷

کال د مارچ تر ۳۱مې پورې وغځوله. راپورونو ته په پام د نومبر پر ۲۳مه د پاکستان فیډرالي کابینې د افغان کډوالو موده د ۲۰۱۷ کال تر پایه وغځوله، خو د جنوري تر پایه هم دا پرېکړه نه‌ده په ډاګه شوې چې افغان کډوالو په ذهنونو کې یې د اپریل په پیل کې د شړلو وېره پر ځای پرېښې وه.

پاکستان تر ۲۰۱۶ کال وړاندې د افغان کډوالو په پاکستان کې د پاتې د کېدو مودې له ۱۸ میاشتو تر ۳ کلونو پورې نوي کولو وعده وکړه، خو وروسته یې دا موده یوازې تر ۱۲ میاشتو لېږې مودې له‌پاره بیا نوې کړه او د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر له میاشتې وروسته یې د کډوالو د کارتونو د نوي کولو څخه ډډه وکړه، په‌دې ډول پاکستاني چارواکو د کډوالو پر شړلو او افغانستان ته په رالېږلو فشارونه ډېر کړل.

له پاکستان څخه د کډوالو افغانستان ته د لېږلو په برخه کې شاید نور لاملونه هم وو چې د دوی پر پرېکړه یې اغېز درلودی، خو تر ټولو مهم لامل یې همدا د پاکستان له‌خوا پر افغان کډوالو فشارونه وو، په پاکستان کې له ځورونو څخه د خلاصي له‌پاره ګڼ شمېر کډوال د UNHCR هغې پریکړې هم وهڅول چې له مخې به یې د کډوالو له‌پاره د سړي سر مرسته له ۲۰۰ امریکایي ډالرو څخه ۴۰۰ امریکایي ډالرو ته لوړه کړه؛ یو شمېر نورو بیا ځینې نور لاملونه هم یاد کړل چې د چارواکو له‌خوا د ځورونې نورې بېلګې ښیي او له مخې یې د پاکستاني ولس په منځ کې د افغانانو پر وړاندې د ناخاپي دښمنۍ راپورته کېدل، د پاکستاني ځمکوالو له‌خوا د کورونو او سوداګریزو ودانیو د کرایو ناخاپي لوړېدل او د ډېریو او یا ټولو خپلوانو او ګاونډیو لېږل چې دې کار د ځایي پولیسو ځورونې ته زمینه مساعده کړې وه، شامل دي.

پاکستان د کډوالو د را ایستلو په برخه کې د نړیوال قانون له مخې مکلف دی چې هېڅ کډوال داسې هېواد ته ستون نه کړي چې هلته د محاکمې، شکنجې، د ناوړه چلند له نورو ډولونو او یا د مرګ له ګواښ سره مخ وي. په دې برخه کې هغه مکلفیت هم شامل دی چې د ثبت شویو کډوالو په شمول هېڅ داسې وګړي بېرته ستنېدو ته اړ نه کړي چې پخپلو سیمو کې له ورته ګواښونو سره مخ وي.

د پاکستان له‌خوا په سلګونو زره ثبت شویو افغان کډوالو فشار راوړل، چې افغانستان ته ستانه شي، له هغو نړیوالو حقوقي مکلفیتونو څخه سرغړونه ده چې د اجباري را ایستنې پر ضد دي.

د ۲۰۰۷ کال له پیله پاکستان هېڅ نوی افغان کډوال چې دې هېواد ته ورغلی نه‌دی ثبت کړی، تر څنګ یې په افغانستان کې د بشري حقونو په وضعیت کې هم هېڅ‌ډول ښه‌والی نه‌دی راغلی. څرنګه چې UNHCR دا واک نه‌لري چې د لسګونو یا سلګونو زره پناه‌غوښتونکو غوښتن‌لیکونه پروسس کړي؛ یوازې محدود شمېر افغان کډوال په‌دې بریالي شوي چې د UNHCR له‌خوا پناه واخلي، نور ټول له هر ډول ډاډمن حقوقي حالته پاتې لېرې پاتې شوي دي.

د هغو ناثبت شویو افغان کډوالو یو ناڅرګند شمېر چې تر ۲۰۰۷ کال وړاندې ثبت شویو ګډوالو ته ورته دلایلو له‌مخې له افغانستان څخه کډه کړې وه او د پناه غوښتلو له‌پاره یې غوښتنلیکونه ورکړي وو د پاکستاني چارواکو له‌خوا هغوی ته اجازه نه وه ورکړل شوې؛ دوی ته باید په پاکستان کې د هستوګنې له‌پاره اسناد ورکړل شوي وای، خو پاکستان له‌دې کاره انکار وکړ. د 205,000 ناثبت شویو افغانانو له منځه، چې د ۲۰۱۶ کال له جولای میاشتې راپه‌دېخوا د پاکستان د ځورونو له کبله په زوره ایستل شوي دي، دوی د اجباري را ایستلو قانون څخه د سرغړونې ښکار شوي دي.

د بشري حقونو د څار اداره پر پاکستان غږ کوي چې په ۲۰۱۷ کال کې د داسې وضعیت له رامنځته کولو څخه ډډه وکړي چې په ۲۰۱۶ کال کې یې له امله افغان کډوالو له مخې وشړل شول او له هغه ځایه را بهر کړای شول. په دې معنی چې د پاکستان د پولیسو له‌خوا روانې ځورونې باید پای ته ورسېږي او بېرته هغه کړنلاره غوره کړي چې له مخې یې د کډوالو کارتونه لږ تر لږه د ۲ نورو کلونو لپاره نوي شي؛ د دې له‌پاره چې د ژمي په نیمایي کې د شړلو اندېښنې له منځه یوسي، کارتونه باید لږ تر لږه د مارچ تر ۳۱مې نیټې پورې نوي کړي او ژمنه وکړي چې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۳۱ نېټه به اعلان کوي چې ایا چارواکي د کډوالو کارتونه د راتلونکو دوو کلونو له‌پاره بیا نوي کوي او که نه. د پاکستان چارواکي باید ناثبت شویو

افغان کډوالو ته چې هلته ژوند کوي، هم اجازه ورکړي چې پاکستان کې د پناه اخیستلو لپاره غوښتنلیکونه ورکړي.

د ۲۰۱۶ کال په دویمه نیمایي کې UNHCR د پاکستان لهخوا د ګڼ شمېر نا ثبت شویو کډوالو د شړلو په تړاو چوپ پاتي شو، یو ځل یې هم یادونه و نه کړه چې هغه کډاوال چې پاکستان پرېږدي او افغانستان ته راستنیږي، لامل یې د پاکستاني پولیسو ځورول او شړلو وېره ده او نه یې هم دا وویل چې د پاکستان دا چلند د قانون خلاف دی.

د دې پر خلاف دې اداري نړیوالو مرسته ورکونکو ادارو ته پهخپل راپور کې یو لړ عوامل وړاندې کړل چې د افغان کډوالو له هغې پرېکړې سره یې نوره هم مرسته کوله چې له پاکستان څخه راستانه شي او بیا بیا یې پهخپله خوښه راستنېدونکو کډوالو لهپاره د اسانتیاوو برابرولو ته په کې اشاره کړې وه. UNHCR وایي چې دې اداري د پردې شاته له پاکستاني چارواکو سره د خلکو د زورونې قضیې او همداراز د ځایي ځورونو په اړه خپلې اندېښنې شریکې کړې وې، خو دا چاره د هغو زورونو پر وړاندې کافي نه وه چې له کبله یې سلګونه زره افغانان اغېزمن شول او لږ تر لږه یې تر ۳ میاشتو دوام وکړ.

که څه هم د کډوالو لهپاره د UNHCR ماموریت دا دی چې کډوال پهخپله خوښه بېرته ستانه کړي، ان که د ډېریو کډوالو لهپاره بېرته راستنېدل خوندي هم نهوي او یا یې بېرته راستنېدل اوږدمهال حلالارې ته اړتیا ولري، خو UNHCR یوازې هغه وخت ګڼ شمېر کډوال راستنېدلو ته هڅولی شي چې په رسمي توګه دې پایلې ته رسېدلي وي چې د کډوالو په اصلي هېواد کې په عمومي ډول دومره بنهوالی راغلی دی چې کډوال د سولې او وقار په فضا کې ستانه او خپل ژوند د اوږدمهالي مودې لهپاره ورغوي. که کډوال خپلې سیمې ته نهشي تللی، نو پهخپله خوښه راستنېدل یې هم یوه دومداره حلالاره نهشو ګڼلای. وړاندې له دې چې د اسانتیاوو د برابرولو او یا د هڅولو لهپاره ملاتړي برابر کړي UNHCR باید ډاډمنه وي چې کډوال ربښتیا هم پهخپله خوښه ستنیږي.

د ۲۰۱۶ کال په جون میاشت کې د هر یو افغان کډوال لهپاره د نغدې مرستې دوه برابره یا ۴۰۰ امریکایي ډالرو ته لوړول او د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر تر نیمایي پورې د دې مرستو دوام او په ډاګه دې ته اشاره کول چې کډوال پهخپله خوښه ستنیږي، پهدې معنی دی چې UNHCR د افغان کډوالو په راستنولو کې اغېزمن رول لوبولی دی.

خو لکه چې راپور ورته اشاره کوي او څرګندوي، د افغانستان په وضعیت کې د پام وړ بنهوالی نهدی راغلی، لهدې کبله ګڼ شمېر راستانه شوي کډوال د ناامنی او فقر له کبله خپلو سیمو ته نهشي ستنیدلی؛ UNHCR پهدې کې پاتي راغلی دی چې ټول کډوال له راستنېدو وړاندې د خپلو سیمو له وضعیت څخه خبر کړي او بیا ان که د افغانستان وضعیت هم یوې خواته کړو، د ۲۰۱۶ کال په دویمه نیمایي کې له پاکستان څخه د کډوالو یوه لویه برخه پهخپله خوښه نهده راستنه شوې. له همدې کبله UNHCR د پاکستان لهخوا د کډوالو د یوې لویې برخې د راایستلو څخه د ملاتړ په پایله کې خپل هغه ماموریت لغوه کړی دی چې د کډوالو لهپاره ور په غاړه شوی وو. لهدې کبله UNHCR پهدې سرغړونو کې ښکېل بلل کېږي.

د جنوري میاشتې په ۲۷مه نېټه UNHCR د بشري حقونو د څار اداري ته په یوه مکتوب کې لیکلي ووت چې"UNHCR د هغو اندېښنو سپیناوی کوي چې له پاکستان څخه د کډوالو د راستنولو لهپاره د هڅوونکو لاملونو په اړه خپاره شوي دي. UNHCR دا ادعاوې هم په کلکه ردوي چې د نغدي مرستو زیاتوالي کډوال راستنېدلو ته هڅولي دي." او دا چې دې اداري "یوازې هغو کډوالو سره مرسته کړې چې له ژور غور وروسته یې بېرته ستنېدل ټاکلي دي او دې مرستو یې تر ټولو بېړنیو بشري اړتیاوو په تر سره کولو کې مرسته کړې ده.

د نومبر په پیل کې چې د ژمي له پیل سره برابر وو، UNHCR اعلان وکړ چې په ډسمبر کې به خپلې مالي مرستې وځنډوي، ځکه چې پیسې یې خلاصې شوې دي، خو د جنوري په پای کې یې پلان ونیوه چې که

مرسته ورکوونکي کافي مالي مرستې وکړي، د مارچ په پیل کې به کډوالو ته دا مرستې بیا پیل کړي، خو که UNHCR خپلو مرستو ته دوام ورکړي او بیا د ۲۰۱۷ کال د اپریل په میاشت کې د کډوالو د ویستلو لپاره د پاکستان د ګواښونو او یا د پولیسو ممکنه ځورونو له کبله د کډوالو د را ایستلو پر وړاندې چوپ پاتې شي، دا اداره به د کډوالو په اجباري را ایستلو کې همداسې ښکېله پاتې وي.

تر هغو چې په پاکستان کې د افغان کډوالو په زور ایستل دوام ولري، UNHCR باید په عامه اعلان وکړي چې پاکستان له هغو ژمنو سرغړونه کوي چې له افغانستان او UNHCR سره یې د یوه درې اړخیزه پرېکړهلیک په ترڅ کې د دې لهپاره کړې ده چې افغان کډوال به په خپله خوښه بېرته ستانه کړي. په عامه توګه د دې خبرې په اعلانولو کې د پاتې راتلو تر څنګ، چې پاکستان خپلې ژمنې ماتې کړې دي، UNHCR پهدې کې هم پاتې راغلی دی چې تر دې پرېکړهلیک لاندې خپله نظارتي دنده تر سره کړي او هغه دا چې د دې خبرې پخلی وکړي چې ایا افغان کډوال ربښتیا هم په خپله خوښه راستنیږي او که نه؟

UNHCR باید په درې اړخیزه پرېکړهلیک کې خپله ونډه هم وځنډوي؛ که څه هم دا پرېکړهلیک درې واړه اړخونه اړباسي چې په خپله خوښه د کډوالو راستنېدلو په اړه ځان ډاډمن کړي، خو پاکستان په ۲۰۱۶ کال کې دغه معیارونه تر پښو لاندې کړل. د دې پر ځای چې د پرېکړهلیک د یوه اړخ په توګه خپله دنده تر سره کړي، UNHCR له پاکستان څخه د کډوالو اجباري شړل خپل خوښیز عمل بولي. UNHCR باید یوازې هغه وخت په پرېکړهلیک کې خپل غړیتوب ته دوام ورکړي چې پاکستان د افغان کډوالو له اجباري شړلو لاس واخلي او کډوالو ته د راستنېدو او یا پاتې کېدو ربښتیني ټاکنه په مخ کې کېږدي.

همداراز باید UNHCR هره نوې اجباري شړنه په عامه توګه وغندي او څرګنده کړي چې په ۲۰۱۷ کال کې هر ډول مرسته چې په نغدي او یا بل ډول وي، یوازې د بشري موخو لهپاره ورکول کېږي، تر څو د ناخاپي اجباري راستنولو په صورت کې د کډوالو زیانونه را کم کړي او د پاکستان هغه دریځ د پیاوړي کولو لهپاره دي نه ورکول کیږي چې ګني کډوال په خپله خوښه راستنیږي.

د اروپایي اتحادیې غړې هېوادونه چې د ۲۰۱۵ کال جنوري او د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر میاشتو تر منځ یې د پناه غوښتونکو لهخوا 350,000 غوښتونلیکونه تر لاسه کړي، د ډېریو افغان کډوالو غوښتنلیکونه یې رد کړي دي. د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په میاشت کې یې له پرمختیایي مرستو څخه په ګټنه، پر افغانستان فشار راوړ چې د هغو زیاتو رد شویو پناه غوښتونکو بېرته راستنول ورسره ومنې؛ دا پهداسې حال کې ده چې افغانستان د ۲۰۱۶ کال په پای کې د اروپایي اتحادیې د غړو هېوادونو لهخوا داسې هېواد بلل شوی دی چې له بېړني بشري بحران سره مخ دی.

د اروپایي ټولنې غړي هېوادونه باید پام وکړي چې کابل به د رد شویو پناه غوښتونکو د دې لوی شمېر له عهدې څنګه ووزي، پهداسې حال کې چې د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې په ۲۰۱۶ کال کې له پاکستانه د راستانه شویو کډوالو ۲۵ سلنه په کابل کې مېشت شوي دي. که داسې و نهشي اروپایي اتحادیه به د بېثباتۍ د هغه خطر په راکمولو کې پاتې راشي چې د له منځه وړلو هڅه یې کوي.

د بشري حقونو د څار اداره پر نړیوالو مرستهورکونکو غږ کوي چې له پاکستاني چارواکو سره مرسته وکړي چې افغان کډوالو ته مناسب ملاتړ برابر او تر هغه وخته پناه ورکړي چې خپل هېواد ته راستنېدل یې خوندي وي. دا اداره پر UNHCR غږ کوي چې د اړتیا پر مهال خپل غږ پورته او په ۲۰۱۷ کال کې د پاکستاني چارواکو لهخوا هغه ناقانونه فشار وننګوي چې په ۲۰۱۶ کال کې یې د افغان کډوالو یو لوی شمېر په اجباري ډول اړ ایستل چې په افغانستان کې د خطر او لوږې ځای ته راستانه شي. دا اداره په پاکستان او افغانستان کې د بشري مرستهورکونکو هېوادونو له استازو څخه غواړي چې پهدې برخه کې د UNHCR د ناکامیو په اړه خپل غږ پورته کړي.

# تفصيلي سپارښتنې

## د پاکستان حکومت ته:

- پاکستان باید په ټینګه ډاډ ورکړي چې ټول ثبت شوي افغان کډوال کولای شي په پوره وقار او عزت سره تر هغه وخته په پاکستان کې پاتې شي چې افغانستان ته راستنېدل يې خوندي وي.

- پاکستان باید په ډلهییز ډول د افغان کډوالو له راستنولو ډډه وکړي، د کډوالو د کارتونو موده را لنډه نهکړي او د شړلو ګواښونه هم نور پای ته ورسوي؛ د دې پر ځای د کارتونو د بیا نوي کولو دوه کلنه پالیسي بېرته غوره کړي او دا کارتونه لږ تر لږه د ۲۰۱۹ کال د مارچ تر ۳۱مې نېټې پورې نوي کړي او یا ژمنتیا وښیي چې لږ تر لږ دا کارتونه د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر تر میاشتې نوي کړي. د کارتونو د تمدید بهیر ته تر هغه وخته دوام ورکړي چې افغانستان د ثبات یوه ټکي ته ورسېږي، څو له نړیوالو معیارونو سره سم له ویاړ او امنیت څخه ډک راتګ ته لار هواره کړي.

- د دې لهپاره چې په پاکستان کې د ناثبت شویو کډوالو اجباري راستنېدلو مخه ونیول شي، د کډوالو د ثبت کارتونو وېش یو ځل بیا پیل کړي، تر څو هغه افغانان چې د ۲۰۰۷ کال د فبروري میاشتې له نیمایي وروسته پاکستان ته راغلي دي هم دا موقف تر لاسه کړي او یا د اجباري راستنولو پر وړاندې دې ته ورته ملاتړ او لارې چارې رامنځته کړي.

- باید ډاډ ورکړي چې هر نا ثبت شوی افغان چې د ناقانونه هستوګنې له کبله ونیول شي، څو په افغانستان کې له محاکمې او یا کوم بل سخت زیان سره مخ وي، د را ایستلو د پرېکړې پر ځای د اپیل حق ورکړل شي او د کډوالو لهپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د ملاتړ په شمول په پاکستان کې د پناه اخیستلو لپاره غوښتنه وکولای شي.

- د ټولو حکومتي چارواکو او دولتي امنیتي ځواکونو لهپاره لیکل شوی حکم خپور کړي چې د ثبت شویو او ناثبت شویو افغانانو پر وړاندې ځورونې بس کړي، پهدې ځورونو کې په زوره ایستل، خپلسرې نیونې، له خبرداري پرته پر کورونو چاپې، د ځواک ناقانونه کارونه او غلاوې شاملې دي؛ پاکستان باید د پېښو د پېښېدو په صورت کې پلټنې وکړي، چېرته چې مناسبه وي پولیس او نور مامورین محاکمه کړي چې د افغان کډوالو پر وړاندې د ځورونو مسوول بلل کېږي.

- ټولو دولتي ښوونځیو ته لارښوونه وکړي چې د افغان ماشومانو حقوقي موقف ته له پام پرته، په ښوونځیو کې داخل کړي.

- د کډوالو د ۱۹۵۱ کال تړون او د ۱۹۶۷ کال کړنلاره لاسلیک او د افغان کډوالو د مدیریت او راستنونې په برخه کې د ۲۰۱۳ کال ملي پالیسۍ د وړاندیز پر بنسټ د کډوالو لهپاره یو ملي قانون لاسلیک کړي.

## د کډوالو لهپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ یا (UNHCR) ته:

- UNHCR باید په ۲۰۱۶ کال کې د پاکستان لهخوا په ډلهییز ډول را ایستل شویو کډوالو پر وړاندې خپله چوپتیا پای ته ورسوي، باید څارنه وکړي او د افغان کډوالو پر وړاندې هر نوی زورزیاتی چې پایله یې د کډوالو په ډلهییز را ایستل وي، په ډاګه او په کلکه وغندي.

- تر څو چې پاکستان د افغان کډوالو له اجباري ستنولو څخه لاس نهوي اخیستی، په ډاګه ووایي چې پاکستان د ۲۰۰۳ کال له درې اړخیز پرېکړهلیک څخه سرغړونه کوي او د UNHCR غړیتوب پهدې پرېکړهلیک کې وځنډوي؛ پر پاکستان فشار راوړي چې د کډوالو کارتونه د ۲۰۱۹ کال د مارچ د میاشتې تر ۳۱مې نېټې پورې بیا نوي کړي؛ د افغان کډوالو پر وړاندې د پولیسو زورزیاتی پای ته ورسوي او هغه چاته پناه ورکړي چې له اجباري ستنولو خلاصون ته اړتیا لري.

- که UNHCR په ۲۰۱۷ کال کې د پاکستان لهخوا د شرایطو له پوره کولو پرته خپله نغدي مرسته پیل کړي، باید په ډاګه څرګنده کړي چې دا نغدي مرسته د پاکستان د هغې ادعا د منلو لهپاره نه ورکول کېږي چې د کډوالو اجباري شړل خپل خوښیزه غوښتنه ثابته کړي، څو پهدې ډول دغه اداره نور د کډوالو په ډلهییز ایستلو کې خپله مرسته پای ته ورسوي.

- په فعال ډول افغان کډوالو ته لاسرسی پیدا کړي او اړیکي ورسره وساتي او د افغانستان له حالاتو یې خبر کړي، که کډوال وغواړي خپل هېواد ته راستانه شي، نو له هر ډول ممکنه خطر څخه یې له وړاندې خبر کړي.

- د دې لهپاره چې په نغدي مرستو د کډوالو تکیه له منځه یوسي، د ملګرو ملتونو له نورو ادارو او افغان حکومت سره یو ځای هغه کډوال په نښه کړي چې له پاکستان څخه په خپله خوښه راستنېدو ته چمتو دي او بیا په افغانستان کې د مرستو او پرمختیا موجوده پروګرامونو څخه یې ملاتړ وکړي؛ د هغو ټولنو لهپاره ملاتړ چمتو کړي چې راستانه شوي کډوال ور بېځایه شوي دي. هېڅ ډول مرستې ته د کډوالو د هڅولو او د راستنولو له اسانتیاوو سره پیوند ور نه کړي. له پاکستاني چارواکو سره له نږدې کار وکړي، تر څو هغو کډوالو ته هم د کډوالۍ اسناد او د پناه اخیستلو فرصت برابر کړي چې د ۲۰۰۷ کال له فبروري وروسته دې هېواد ته کډه شوي دي.

- د اروپایي اتحادیې د غړو هېوادونو پرېکړې د پناه غوښتونکو پر وړاندې کلکې وڅاري، تر څو هغه دوسیې په نښه کړي چې په خطایي سره رد شوې دي، پهدې دوسیو کې هغه دوسیې هم شاملې دي چې د هېواد دننه پناه ورکولو په برخه کې د ناسمو دلایلو له مخې رد شوې دي. په عامه توګه پر هغو غړو هېوادونو غږ وکړي چې د پام وړ ناسمې پرېکړې یې کړې دي، څو په غلطي سره رد شویو دوسیو ته د بیا اورېدلو وخت برابر کړي.

## په افغانستان او پاکستان کې د بشري مرسته ورکونکو هېوادونو کاري ډلو ته:

- که UNHCR د افغان کډوالو د ډلهییز اجباري راستنونو نوي بهیر پر وړاندې لا هم چوپ پاتې شي، دوی باید د لوړو ذکر شویو کړنو په صورت کې په پاکستاني چارواکو غږ وکړي چې په اجباري ډول د افغان کډوالو راستنول ودروي.

## د اروپایي اتحادیې د غړو هېوادونو په ګډون، هغو مرسته کوونکو هېوادونو ته چې له پاکستان سره مرستې کوي:

- په پاکستاني چارواکو فشار راوړئ چې د افغان کډوالو د کډوالۍ کارتونه د ۲۰۱۹ کال د مارچ تر میاشتې بیا نوي کړي او تر څنګ یې د د هغو کډوالو د ثبت چارې هم پیل کړي چې د ۲۰۰۷ کال د فبرورۍ له میاشتې وروسته دې هېواد ته کډه شوي دي، دې کډوالو ته هم باید په پاکستان کې د کډوالۍ اسناد ورکړل شي؛ په پاکستان فشار راوړئ چې د ټولو افغانانو پر وړاندې د پولیسو زورزیاتی ودروي.

- پر UNHCR فشار راوړئ چې په ډاګه او په ښکاره ووایي چې پاکستان له درې اړخیزه پرېکړه‌لیک څخه سرغړونه کوي، پاکستان باید مجبور شي چې د پولیسو له لوري د افغان کډوالو پر وړاندې زورزیاتی پای ته ورسوي او په زوره د دوی له راستنول لاس واخلي او په UNHCR فشار راوړئ چې تر څو پاکستان په زوره د افغان کډوالو ایستل نه وي درولي، پەدې پرېکړنه‌لیک کې غړیتوب ځنډوي.

- په UNHCR فشار راوړئ چې د پاکستان لەخوا د افغان کډوالو په زوره ایستلو هر عمل پر وړاندې په ډاګه غبرګون وښیي او په ښکاره وښیي چې په زوره راستنو شویو کډوالو لەپاره هره چمتو شوې مرسته یوازې د دې لەپاره ورکول کېږي چې د ستنولو پر مهال د دوی ستونزې راټیټې شي، دې مرستو ته باید د پاکستان د هغې پلمې د ملاتړ په سترګه ونه کتل شي چې د کډوالو راستنېدل د کډوالو خپله خوښه بولي.

- له پاکستاني چاروکو او پەدې هېواد کې د UNHCR له دفتره سره مرسته وکړي، تر څو په پاکستان کې له مېشتو افغان کډوالو سره په ښه توګه مرسته وکړي او د پناه ورکولو فرصت ورته برابر کړي.

- راستنو شویو کډوالو لەپاره د ملګرو ملتونو د ادارو او افغان حکومت له بشري او پرمختیایي پروګرامونو سره مرسته وکړي، د دې تر څنګ له هغو ټولنو سره هم مرسته وکړي چې راستنو شویو کډوالو ته یې ځای ورکړی دی.

## د اروپایي اتحادیې غړو هېوادونو ته:

- د اروپایي ټولنې غړي هېوادونه باید پوره پام وکړي چې کابل او د افغانستان نور ولایتونه به د رد شویو پناه غوښتونکو د دې لوی شمیر له عهدې څنګه ووزي؛ هغه افغان کډوال چې د ردولو او راستنولو حکم یې ځنډول شوی دی باید و نه نیول شي او تر ملي قانون لاندې د هغو کسانو پر وړاندې ګټور درېځ غوره کړي چې په ورته ناوړه شرایطو کې راګیر دي.

- باید پوره باوري شي چې د پناه ورکوني محکمه د پناه غوښتونکو غوښتن‌لیکونه د د UNHCR له لارښود سره سم چې د ۲۰۱۶ کال د اپرېل میاشتې د نړیوال خوندیتوب پر اړتیاوو برابرو افغان پناه غوښتونکو لەپاره چمتو کړی دی، په سمه توګه ارزوي، پەدې برخه کې په ځانګړي ډول هغه دوسیې هم شاملې دي چې د داخلي کډوالۍ IFA وړاندیز ورته شوی، باید د UNHCR او پناه غوښتونکو لەپاره د اروپا د ملاتړ ادارې لەخوا چمتو شوي داخلي کډوالۍ د لارښود سره سم پرېکړه وشي.

- د افغانستان لەپاره د ۲۰۱۷ کال بشري غبرګون پلان په بشپړ سخاوت تمویل کړي.